# د افغانستان اسلامي امارت
## ستره محکمه
## عالي مقام

تاریخ ۱۴۴۴/۷/۱۷          شماره ۲۰۹

دافغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

الله تعالى مو محفوظ او منصور لره ،

وبعد: دستري محکمې د عالي مقام د هدايت په اساس د مرکزي تميز د جزاء ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله صاحب او د ستري محکمې د تفتيش رياست معاون محترم مولوي عبدالولي صاحب د بنديانو د سرنوشت معلومولو لپاره تعين سوي وه ، تر څو د مرکزي محبس له منسوبينو سره غونډه جوړه او يو طرزالعمل تيار کړي ، چي ياد طرزالعمل په ۱۴ مادو او ۹ صفحو کي ستاسي محترم مقام ته د توشيح لپاره در واستول سو.

هرڅه چي د عالي مقام هدايت وي واجب التعميل دی .

والسلام

الشيخ عبدالحکيم « الحقاني »

دستري محکمې رئيس او قاضي القضات

عفا الله عنه
۱۴۴۴/۷/۱۷

وکتل سو!

وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته !

وبعد : د بنديانو کړنلاره د جنوني اړينو تعديلاتو سره سم په پنځلس مادو کي منظور ده ، تعديل سوې کړنلاره د دې مکتوب سره مل دی ولېږل سي.

والسلام

شمیره: ۲۹۲۶
نیټه: ۱۴۴۴/۸/۱۸

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د دفتر رياست
د احکامو او فرامينو د ثبت آمريت

بسم الله الرحمن الرحیم

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

# د بندیانو کړنلاره

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د سترې محکمې د مرکزي تمیز د جزاء دیوان رئیس مفتي عتیق الله صاحب او د سترې محکمې د قضائي تفتیش ریاست معاون حافظ مولوي عبد الولي صاحب د کابل ولایت د مرکزي محبس له مسئولینو سره د پلچرخي په زندان کي غونډه وکړه او لاندي مواد یې ترتیب کړه او په مجلس کي موافقه وشوه چي لیکل شوي مواد به د کابل ولایت د جنائي تحقیقاتو محترم ریاست او د کورنیو چارو وزارت د کشف داخلي محترم ریاست ته واستوو تر څو هغوی یې هم تر نظر تېر کړي وروسته به وربانديٰ یو مشترک مجلس دائر کړو، هغه مواد چي په یاد مجلس کي ترتیب شوه په لاندي ډول دي:

## د بندیانو د تسلیمۍ اړوند:

۱- کشفي او امنیتي ارګانونه چي بندیان نیسي باید د مشرتابه مقام د ۱۴۴۳/۸/۷هـ ق نېټې د (۳۹۷ج۱) ګڼه حکم په پام کي نیولو سره د خپلو تحقیقاتو تر پوره کېدلو پوري بندیان په خپل نظارت خانه کي وساتي او په خپل اصولي وخت کي یې دوسیې ترتیب کړي.

۲- د کومو بندیانو دوسیې چي تکمیل سي هغه دوسیې دي مرتبي او نمبر واره د بندیانو سره یوځای مربوطه محکمې ته وسپاري او د دوسیو او بندیانو د سپارلو پر وخت دي د محکمې څخه د دوسیو او بندیانو د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخلي، وروسته دي بندیان سره د تصدیق پاڼي محبس ته تسلیم کړي او د محبس مسئولین دي د تصدیق پاڼي یوه کاپي واخلي له ځان سره دي یې وساتي.

۳- که د کشفي ارګانونو په توقیف ځای کي بندیان زیات سي نو د دوسیو تر تکمیل مخکي دي بندیان محبس ته نه استوي، بلکه د خپل مافوق مقام سره دي د مشکل د حل په هکله موضوع شریکه کړي.

البته که په ځیني وختونو کي یو خاص ضرورت پیښ سي، کشفي او امنیتي ارګانونه د محبس له مسئولینو څخه وغواړي چي که څه هم د بندیانو دوسیې محکمې ته تسلیم سوي نه دي تاسي بندیان تسلیم کړئ، موږ به په یوه یا دوو ورځو کي د بندیانو دوسیې محکمې ته تسلیم کړو او تاسي ته به تصدیق پاڼه راوړو، نو د محبس مسئولین دي د امکان تر حده کومک ورسره وکړي، خو دغه بندیان باید د تصدیق پاڼي تر راوړلو مخکي د هغه بندیانو په لیست کي شامل نه کړي چي د محکمې مربوط وي.

۴- محکمه دي د بندیانو د دوسیو تر تسلیمۍ وروسته د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چي د دغه دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

۵- د ټولو ولایتونو د ولسوالیو بندیان که د یو کشفي یا امنیتي ارګان لخوا د ولسوالۍ توقیف خانې یا د ولایت مرکزي محبس ته تسلیمیږي باید دوسیې او بندیان ابتدائیه محکمې ته تسلیم سي او د محکمې څخه د دوسیو او بندیانو د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخیستل سي، وروسته د تصدیق پاڼي سره یو ځای بندي محبس یا توقیف خانې ته تسلیم سي، که مستقیما د محکمې لخوا بندي محبس یا توقیف خانې ته تسلیمیږي باید د محکمې مکتوب ورسره وي او د محبس او توقیف خانې مسئولین دي تصدیق پاڼه او مکتوب د ځان سره وساتي، محکمه دي د بندیانو په هکله د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چي د دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

٦- د ټولو ولایتونو د مرافعه محکمې د دیوانونو بندیان که د یو کشفي یا امنیتي ارګان لخوا د ولایت مرکزي محبس ته تسلیمیږي باید دوسیې او بندیان د مرافعه محکمې ریاست ته تسلیم سي او د محکمې څخه د دوسیې او بندي د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخیستل سي، وروسته د تصدیق پاڼي سره یو ځای بندي محبس ته تسلیم سي، که مستقیما د محکمې لخوا بندي محبس یا توقیف خانې ته تسلیمیږي باید د محکمې مکتوب ورسره وي او د محبس مسئولین دي تصدیق پاڼه او مکتوب د ځان سره وساتي، محکمه دي د بندیانو په هکله د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چي د دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

د مرافعه محکمې د دیوانونو په مکتوب او تصدیق دي مرکزي محبس بندیان نه تسلیموي.

۷- د کابل ولایت د ښاري محکمې په څلورو زونونو کي د هر زون بندیان که د یو کشفي یا امنیتي ارګان لخوا د ولایت مرکزي محبس ته تسلیمیږي باید دوسیې او بندیان د زون عمومي ریاست ته تسلیم سي او د زون دعمومي ریاست څخه د دوسیې او بندي د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخیستل سي، وروسته د تصدیق پاڼي سره یو ځای بندي محبس ته تسلیم سي، که مستقیما د محکمې لخوا بندي محبس ته تسلیمیږي باید د زون د عمومي ریاست مکتوب ورسره وي او د محبس مسئولین دي تصدیق پاڼه او مکتوب د ځان سره وساتي، د زون عمومي ریاست دي د بندیانو په هکله د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چي د دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

د هر زون د مربوطه دیوانونو په مکتوب او تصدیق به مرکزي محبس بندیان نه تسلیموي.

۸- د کابل څخه ماسیوا په نورو ولایتونو کي د ښاري محکمې د دیوانونو مربوطه بندیان که د یو کشفي یا امنیتي ارګان لخوا د ولایت مرکزي محبس ته تسلیمیږي باید دوسیې او بندیان د ښاري محکمې عمومي ریاست ته تسلیم سي او د ښاري محکمې د عمومي ریاست څخه د دوسیې او بندي د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخیستل سي، وروسته د تصدیق پاڼي سره یو ځای بندي محبس ته تسلیم سي، که مستقیماً د محکمې لخوا بندي محبس ته تسلیمیږي باید د ښاري محکمې د عمومي ریاست مکتوب ورسره وي او د محبس مسئولین دي تصدیق پاڼه او مکتوب د ځان سره وساتي، د ښاري محکمې عمومي

ریاست دي د بندیانو په هکله د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چې د دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

د ښاري محکمې د هر دیوان په مکتوب او تصدیق به مرکزي محبس بندیان نه تسلیموي.

۹- د نظامي محکمې بندیان که د یو کشفي یا امنیتي ارګان لخوا محبس ته تسلیمیږي باید دوسیه او بندي د نظامي محکمې ریاست ته تسلیم سي او د محکمې څخه د دوسیې او بندي د تسلیمۍ تصدیق پاڼه واخیستل سي، وروسته د تصدیق پاڼي سره یو ځای بندي محبس ته تسلیم سي، که مستقیماً د محکمې لخوا بندي محبس یا توقیف خانې ته تسلیمیږي باید د محکمې مکتوب ورسره وي او د محبس مسئولین دي تصدیق پاڼه او مکتوب د ځان سره وساتي، محکمه دي د بندیانو په هکله د محبس څخه په لیکلې بڼه اطمینان تر لاسه کړي چې د دوسیو مربوطه بندیان محبس ته تسلیم سوه.

یادونه: هر کله چې محبس یا توقیف خانې ته هغه بندیان تسلیم سي چې دوسیې یې محکمې ته سپارل سوي وي او د دوسیو د تسلیمۍ تصدیق پاڼه ورسره وي نو د محبس او توقیف خانې مسئولین باید محکمې ته د اطمینان مکتوب ولیږي چې د دوسیو مربوطه بندیان محبس یا توقیف خانې ته تسلیم سوه.

## د بندیانو د ازادېدلو اړوند:

۱۰- د محبس څخه د بندیانو د آزادېدلو مکتوب باید د لاندیني تفصیل مطابق اجراء سي:

**الف:**

د کابل ولایت د مرافعه محکمې د دیوانونو او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو هغه بندیان چې په مرکزي محبس کي قرار لري، د دغه بندیانو د آزادېدلو مکتوب باید د مرافعه محکمې د ریاست له طرفه د ایمیل (بریښنالیک) ادرس له لاري مرکزي محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (بریښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس مسئولین دي د مرافعه محکمې د ریاست سره رابطه وکړي چې پر ایمیل (بریښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کي د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

د مرافعه محکمې د دیوانونو او د ابتدائیه محاکمو په مکتوب دي مرکزي محبس بندیان نه آزادوي.

**ب:**

د کابل ولایت په څلورو زونونو کي د هر زون د هر دیوان د بندي د آزادېدلو مکتوب دي د زون د عمومي ریاست له طرفه پر ایمیل (بریښنالیک) ادرس محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (بریښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس

مسئولین دي د مربوطه زون د ریاست سره رابطه وکړي چي پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کي د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

د زون د یوانونو په مکتوب دي مرکزي محبس بندیان نه آزادوي.

ج:

د کابل ولایت څخه ماسیوا په نورو ولایاتو کي د مرافعه محاکمو د دیوانونو او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو هغه بندیان چي د ولایت په مرکزي محبس کي قرار لري، د دغه بندیانو د آزدېدلو مکتوب دي د مرافعه محکمې له طرفه پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس مسئولین دي د مرافعه محکمې له ریاست سره رابطه وکړي چي پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کي د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

د مرافعه محکمې د دیوانونو او د ابتدائیه محاکمو په مکتوب دي مرکزي محبس بندیان نه آزادوي.

د:

د کابل ولایت څخه ماسیوا د نورو ولایاتو د ښاري محکمې د دیوانونو د بندیانو د آزادېدلو مکتوب دي د ښاري محکمې د عمومي ریاست له طرفه پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس مسئولین دي د ښاري محکمې له عمومي ریاست سره رابطه وکړي چي پر ایمیل (برېښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کي د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

د ښاري محکمې د دیوانونو په مکتوب دي مرکزي محبس بندیان نه آزادوي.

البته په کومو ولایاتو کي چي په محاکمو یا محبس کي د ایمیل (برېښنالیک) ادرس نظام نه وي برابر، د هغه ولایاتو د محبس او مرافعه محکمې او ښاري محکمې مسئولین دي په خپل منځ کي پر یوه داسي طریقه بحث وکړي چي په مکتوبونو کي د جعل کارۍ مخه ونیول سي، هغه که د واټساف له لاري محبس ته د مکتوبونو استول وي یا کوم بل مناسب ترتیب.

هـ:

د ټولو ولایاتو د ټولو ولسوالیو هغه بندیان چي د ولسوالۍ په توقیفه خانه کي وي د هغه بندیانو د آزادېدلو مکتوب دي د ابتدائیه محکمې له طرفه صادر سي، که د ایمیل (برېښنالیک) ادرس نظام وجود ولري نو د ایمیل (برېښنالیک) ادرس له لاري دي توقیف خانې ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکړي، که د ایمیل (برېښنالیک) ادرس نظام نه وي برابر، د هغه ولسوالیو د توقیف خانې او ابتدائیه محکمې مسئولین دي په خپل منځ کي پر یوه داسي طریقه

بحث وکړي چې په مکتوبونو کې د جعل کارۍ مخه ونیول سي، هغه که د واټساف له لاري توقیف خانې ته د مکتوبونو استول وي یا کوم بل مناسب ترتیب وي.

ز:

د نظامي محکمې د بندیانو د آزادېدلو مکتوب باید د نظامي محکمې د ریاست له طرفه د ایمیل (بربېښنالیک) ادرس له لاري مرکزي محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (بربېښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس مسئولین دي د نظامي محکمې د ریاست سره رابطه وکړي چې پر ایمیل (بربېښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کې د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

ح:

د تمیز د دیوانونو هغه بندیان چې د ولایت په مرکزي محبس کې قرار لري، د دغه بندیانو د آزدېدلو مکتوب دي د تمیز د عمومي ریاست له طرفه پر ایمیل (بربېښنالیک) ادرس محبس ته واستول سي او هم دي مکتوب یا د مکتوب یوه کاپي د بندي سرپرست ته ورکول سي، که محبس ته د بندي د آزادېدلو مکتوب راسي او پر ایمیل (بربېښنالیک) ادرس محبس ته نه وي استول سوی، د محبس مسئولین دي د تمیز د ریاست سره رابطه وکړي چې پر ایمیل (بربېښنالیک) ادرس یې ورته واستوي، تر څو په دغه مکتوبونو کې د جعل کارۍ مخه ونیول سي.

د تمیز د دیوانونو په مکتوب دي مرکزي محبس بندیان نه آزادوي.

۱۱- که په یو محبس یا توقیف خانه کې داسي بندي وجود ولري چې د عمر د ډېروالي یا د سخت مرض له امله یې په محبس او توقیف خانه کې ساتل مشکل وي، د دغه بندي موضوع دي په عاجله توګه رأساً د ستري محکمې سره شریکه سي، ستره محکمه دي هم په عاجله توګه یو هیئت پر دنده وګماري ترڅو د بندي په هکله معلومات وکړي، وروسته چې د ستري محکمې د محترم مقام له طرفه کوم حکم وسي هغه واجب التعمیل دی.

۱۲- هغه بندیان چې د محکمې له طرفه یې د ضمانت په شرط د آزادېدلو حکم سوی وي او نوموړی د ضمانت توان ونه لري، دغه بندي که سرپرست ولري نو سرپرست دي مربوطه محکمې ته عارضه وکړي او که سرپرست ونه لري د هغه بندي په هکله دي د محبس یا توقیف خانې مسئولین له مربوطه محکمې سره رابطه وکړي، وروسته به محکمه د بندي عذر او موضوع ته په کتلو سره خپله پرېکړه وکړي.

۱۳- کوم بندیان چې د محکمې له طرفه یې داسي فیصله وسي چې په ضمانت دي آزاد سي، د دغه بندیانو څخه د ضمانت اخیستلو لپاره باید دوې طریقې اختیار سي:



**الف:**

هغه بندي چې د بل بنده حق ورسره متعلق وي او ضمانت د دې لپاره ورڅخه اخیستل کیږي چې که په آینده کې د دغه بنده حق ور نه کړي نو ضامن یې باید مکلف سي چې یا د بنده حق ورکړي (که یې د مال ضمانت کړی و) او یا آزاد سوی شخص حاضر کړي (که یې د سر ضمانت کړی و)، د دغه قسم ضمانت لپاره د محکمې له طرفه باید مکتوب صادر سي چې د نوموړي بندي لپاره په خپل مربوطه وثائقو کې رسماً ضمانت خط ترتیب سي.

**ب:**

هغه بندي چې د بل بنده حق ورسره متعلق نه وي او ضمانت صرف د دې لپاره ورڅخه اخیستل کیږي چې په آینده کې د دغه بندي لپاره یو باعث وي چې نوموړی بیا دغه عمل تکرار نه کړي، د دغه بندیانو لپاره دې محکمه د محبس مسئولینو ته مکتوب ولیږي چې د نوموړي بندي لپاره ضمانت خط ترتیب کړي، وروسته دې د محبس مسئولین ضمانت خط ترتیب کړي او د بندي د سرپرست یا د محبس د یو مؤظف کس په لاس دې مربوطه محکمې ته ولیږي، چې د محکمې د قاضي له طرفه لاسلیک سي او مهر وربانديي ولګول سي، کله چې د محکمې د قاضي له طرفه لاسلیک سي او مهر وربانديي ولګول سي، وروسته باید د محبس له طرفه نوموړی بندي آزاد سي او ضمانت خط په محبس کې وساتل سي.

۱۴- د کومو بندیانو چې د حبس موده پر پوره کېدو وي د مودې تر پوره کېدلو (۳) ورځې مخکې باید د محبس له طرفه مربوطه محکمې ته خبر ورکول سي، محکمه دې وګوري که د نوموړي په هکله بل مشکل نه و د آزادېدلو مکتوب دې محبس ته ولیږي او که کوم بل مشکل و چې د هغه له امله باید نوموړی شخص د حبس تر پوره کېدلو وروسته هم څه وخت په محبس کې پاته سي، بیا دې دغه موضوع د محبس له مسئولینو سره په مکتوبي ډول شریکه کړي، تر څو د محبس مسئولین هم خبر وي او د پوښتني پر وخت یو چا ته ځواب ولري.

۱۵- ښځینه بندیاني باید د نیولو سره سم د ولایت د امنیه قمنداني نظارت خانې ته وسپارل سي او هلته د ښځینه بندیانو په نظارت خانه کې د دوسیو د تکمیل تر وخته پوري وساتل سي، په حوزو او ولسوالیو کې باید و نه ساتل سي، ځکه هلته د ښځینه بندیانو لپاره جلا انتظام موجود نه وي.

پـــای